# نړیوال بانک

اړیکي: *په کابل کی:* عبدالروف ضیاء ۷۰۲۸۰۸۰۰ (۹۳)
بریښنالیک: azia@worldbank.org
په واشنګټن کی: اریك نورا ۴۷۳۵ ۴۵۸ (۲۰۲)
بریښنا لیک: enora@worldbank.org

**خبری خپرونه نمبر**:SAR /۲۰۰۶

## نړیوال بانك د نورو ۳۰ میلیون امریکایي ډالرو په ورکولو په افغانستان کې له روغتیایي خدمتونو سره مرسته کوی

واشنګټن، د ۲۰۰٦ کال د فبروري ۲۸ مه – نړیوال بانك نن د ۳۰ میلیونو امریکایی ډالرو په ارزښت نوره مالی مرسته هم تصویب کړه، چې هغه به د افغانستان د دولت له هڅو سره مرسته وکړي چې په هیواد کی یي د بنسټیز روغتیایی خدمتو د پراختیا او ودی لپاره په کار اچولی دي.

د روغتیایی سکټور له بیړنی بیاجوړنی او پراختیایی پروژی سره د پورتنی مرستې اصلی موخه او هدف د ماشومانو او میندو د مړینې او همدارنګه په ماشومانو کې د کم څواکی (یا نیمګړی تغذیی) کموالی دی. دغه کار به د بنسټیز روغتیایی خدمتونو د زیاتوالي او د ټولو افغانانو لخوا ور څخه په برابره توګه د ګټې اخیستنې له لاری ترسره شي. دغه مرسته به پر سکټور باندي د عامه روغتیا وزارت کنټرول لاپسی پیاوړی کړی او د روغتیایي پاملرنې په تمویل، د شریکانو په انسجام او تنظیم او د غیر دولتی موسسو له کارونو څخه په څارنه کی زیاته ونډه ولري. همدا راز د افغاني روغتیایی کارکوونکو د وړوالي یا ظرفیت کچه به هم لوړه کړی، تر څو وکولای شي روغتیایی خدمتونه برابر او اداره کړی.

*"د روغتیایی خدمتونو دغه کیدی چی مونږ ورته مالي مرستی برابرو، د افغانانو د روغتیایي حالت او څرنګوالی د ښه کولو تر ټولو اغیزناکه او عادلانه وسیله ده."* **دغه خبره بینجامین پی لویوینسان، د نړیوال بانك د عامه روغتیا کار پوه و د پروژي مشر وکړه.** نوموړی زیاته کړه: *"دغه مالي مرسته به د روغتیایی خدمتونو لړۍ هغو کلیوالو سیموته و غځوی چی هلته به سلګونو او زرونو خلك، په ځانګړی توګه ښځې او ماشومان هر کال د دغه ډول خدمتونو د نشتوالی له امله مري".*

له هغی وروسته چی نړیوال بانك د ۲۰۰۳ کال د جون په میاشت کې د ۵۹،۶ میلیونه امریکایي ډالرو مالی مرسته یی د روغتیایی سکټور له بیړنی بیاجوړنی او پراختیایی پروژی لپاره تصویب کړه، د عامې روغتیا وزارت پر روغتیایی خدمتونو د برلاسی موندلی او هم یي د روغتیایی پاملرنې د کیفیت او څرنګوالی په لوړولو کی د پام وړ پرمختګ کړی دی. له دغو لاس ته راوړنو څخه د افغانستان خلکو ته د روغتیایي خدمتونو زیاتوالی، په ځانګړی توګه د یادونی او ستاینې وړ ګڼل کیږی. له سلو څخه زیاتې نوې روغتیایی اسانتیاوی مینځ ته راغلی دی او په زرګونو کلیوال روغتیایي کارکوونکی روزل شوي دی.

خو بیا هم د ۲۵ میلیونو افغانانو روغتیایي څرنګوالی په نړۍ کی له ټولو څخه په ډیر ناوړه حالت کی دی. د پنځه کالو لږ عمر لرونکو ماشومانو مړینه په ۲۰۰۳ کال کی په هر ۱۰۰۰ ژوندی زیږیدنو کی ۲۵۷ ده، چی دغه کچه په نړۍ کی

په ځلورمه درجه کې ده. د نوی زیږیدلو ماشومانو او له پنځه کلونو څخه د ټیټ عمر لرونکو ماشومانو د اوچتې کچې مړینی له کبله په افغانستان کی منځنی عمر یوازې ۴۳ کاله دی. د ښځو او ماشومانو د تغذیې حالت هم ډیر خراب دی. له پنځو کالو څخه درا ټیټ عمر لرونکی په سلو کې ۳۹ فیصد ماشومان کم وزن لري، او له نیمایی څخه زیات ماشومان د دوامدارې نیمګړې تغذیی اوخوړو څخه رنځ وړي.

په ځانګړې توګه، د نړیوالي پراختیایي اداری (IDA) لخوا برابره شوی اضافی مالی مرسته به د ټول هیواد په کچه هغو ۸ نویو سیمو کی د روغتیایي خدمتونو پراختیا تمویل کړی، چي هلته کتنځی نشته او روغتیایي او خلکو ته خدمتونه په ډیره کمه کچه برابریږي. همدا راز نوموړی مرسته به د کار پر بنسټ د شراکت هغو موجودو تړون لیکونو ته هم لاره چاره برابره کړی چی په اتو ولایتونو (هلمند ، فراه، بادغیس، سرپل، بلخ، وردګ او نیمروز) پوری اړه لري او د نورو ۱۸ میاشتو لپاره به دوام وکړی.

د نړیوال بانك د کارونو په هکله نورو معلوماتو لپاره دغه انټرنیټی پاڼه وګوری:
http://www.worldbank.org.af

د پروژی په هکله معلوماتو لپاره دغه انټرنیټي پاڼه وګوری:
http://www.worldbank.org.af/external/default/main?pagePK=64027221&piPK=64027220&theSitePK=305985&menuPK=306018&Projectid=P098358